Office of the Deputy PM for Economic Affairs


د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## خبرپاڼه

دربیم کال - ۱۵مه ګڼه | پرله‌پسې ۷۷مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۴/۲۵



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د جبل السراج د سیمنټو دویمه فابریکه؛ د کورني تولید او صنعتي ودې له پاره مهم ګام

۲- د مالیاتي تخفیفونو اعلان؛ د پانګونې، تولید او اقتصادي فعالیتونو د پراختیا له پاره مهم اقدام

# د جبل السراج د سیمنټو دویمه فابریکه؛ د کورني تولید او صنعتي ودې له پاره مهم ګام



د پروان ولایت په جبل السراج ولسوالۍ کې د سیمنټو د دویمې لویې تولیدي فابریکې د جوړېدو د چارو پیل د افغانستان د صنعتي پراختیا او د کورني تولید د پیاوړتیا په برخه کې یو مهم پرمختګ ګڼل کېږي. د فابریکې د چارو پرانیسته کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم ملا عبدالسلام حنفي، د کابینې یو شمېر غړو او د ملي پراختیا شرکت مسوولینو په ګډون ګڼ شمېر هېوادوالو ګډون کړی و. د جبل السراج سیمنټو دویمه فابریکه به په ورځني ډول د پنځه زره ټنه سیمنټو د تولید ورتیا ولري، چې د هېواد د ساختماني اړتیاوو د پوره کولو ترڅنګ به د وارداتي سیمنټو پر ځای د کورني تولید ونډه هم لوړه کړي. افغانستان هرکال د سیمنټو د اړتیا د پوره کولو له پاره د پام وړ اندازه سیمنټ له بهرنیو هېوادونو واردوي، چې له امله یې میلیونونه ډالر بهر ته لېږدول کېږي. د جبل السراج د دویمې فابریکې په فعالیت سره به د دغو وارداتو یوه مهمه برخه د کورني تولید له لارې جبران شي، د اسعارو د وتلو کچه به راټیټه شي او د هېواد اقتصاد به ورسره مثبت لوري ته روان شي. همدارنګه، ساختماني مواد به د لویو زېربنايي پروژو د لګښتونو په کمولو او د پروژو په چټک تطبیق کې هم اغېزناک رول ولوبوي.

د دې فابریکې بله مهمه اقتصادي ګټه د کارموندنې فرصتونه دي. تمه کېږي چې د جوړېدو او تولید په پړاوونو کې به زرګونه مستقیم او غیر مستقیم کاري فرصتونه رامنځته شي. دا به نه یوازې د هېوادوالو د عاید د زیاتوالي سبب شي، بلکې د سیمې په اقتصادي فعالیتونو او اړوندو برخو کې به هم د پانګونې او سوداګرۍ د پراختیا زمینه برابره کړي. د یادې پروژې پیل د خصوصي سکتور له پاره هم یو مثبت پیغام لري. په داسې حال کې چې د افغانستان اسلامي امارت د پانګونې ملاتړ کوي، د دې ډول لویو پروژو عملي کېدل کولی شي د کورنیو او بهرنیو پانګوالو باور زیات کړي او په کانونو، ساختماني موادو او نورو تولیدي صنعتونو کې د نورې پانګونې زمینه لا پراخه کړي. که ورته پروژې په بریالیتوب سره بشپړې شي، افغانستان به د سیمنټو په برخه کې د ځان بسیاینې ترڅنګ د سیمې بازارونو ته د صادراتو له پاره هم مناسب ظرفیت ترلاسه کړي.

# د مالیاتي تخفیفونو اعلان؛ د پانګونې، تولید او اقتصادي فعالیتونو د پراختیا له پاره مهم اقدام

د هېواد د خصوصي سکتور له پاره د مالیاتي تخفیفونو اعلان د سوداګرۍ او صنعت د ملاتړ په برخه کې یو مهم اقتصادي اقدام ګڼل کېږي. د حکمي اشخاصو د عوایدو مالیې له شل سلنې څخه لس سلنې ته راټیټول، د حقیقي اشخاصو د مالیاتي معافیت حد لوړول او د شتمنیو د انتقال د مالیې کمول هغه اصلاحات دي چې د خصوصي سکتور مالي بار راکموي او د پانګونې له پاره لا مناسب شرایط رامنځته کوي. په اقتصادي لحاظ، د مالیې کمېدل د شرکتونو او تولیدي بنسټونو له پاره د لګښتونو د راټیټېدو معنا لري. کله چې د سوداګرو او تولیدوونکو پر ګټې مالیاتي فشار لږ وي، هغوی



کولی شي خپلې سپما شوې مالي سرچینې د تولید د پراختیا، د نویو ماشینونو د پېر، د تولیدي ظرفیت د لوړولو او د اضافي کاري ځواک د ګومارلو له پاره وکاروي. دا چاره په اوږد مهال کې د تولید د زیاتوالي او د اقتصادي ودې د چټکتیا لامل ګرځي. همدارنګه، د حقیقي اشخاصو د مالیاتي معافیت د کچې لوړول د ټیټ او منځني عاید لرونکو هېوادوالو د اخیستلو ځواک زیاتوي، ځکه د دوی د عاید لویه برخه د مصرف او سپما له پاره پاتې کېږي. د کورني مصرف زیاتوالی د بازارونو فعالیت پیاوړی کوي او د تولیدي او خدماتي سکتورونو له پاره د تقاضا د لوړېدو لامل کېږي. د شتمنیو د انتقال د مالیې کمول او د تېلو او ګازو د عمده پلور له پاره د ثابتې مالیې ټاکل هم د سوداګریزو راکړو ورکړو لګښتونه راکموي. دا مالیاتي تخفیفونه د پانګونې، د شتمنیو د قانوني ثبت او د سوداګریزو فعالیتونو د پراختیا له پاره هڅوونکی رول لري. د افغانستان اسلامي امارت به دغه مالیاتي تخفیفونه عملي کړي او له نورو اقتصادي اسانتیاوو سره د یو ځای کېدو له امله به په هېواد کې د خصوصي پانګونې، تولید او کاري فرصتونو په زیاتوالي کې مهم رول ولوبوي.